# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## آمریت اطلاعات و ارتباط عامه

# خبري بلوټن

# News Bulletin

۱ اسد_سال ۱۴۰۱


اخبار مهم
افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

**عنوان** **صفحه**


اخبار کامل------------------------------------------------------------------------------------------------------- ٤

بیش از ٥٠٠ مهاجرافغان ازایران وپاکستان به وطن برگشت نمود ------------------------------------------------------ ٤

بیش از ٣٠٠ خانواده در لغمان و فاریاب کمک نقدی وصحی شدند------------------------------------------------------ ٤

له پاکستانه (١١١) افغان کډوالي کورنۍ راستنې شوې ---------------------------------------------------------------- ٥

له ترکيې څخه د کډوالو د ایستلو دوام: یوازې په جون میاشت کې له ١٢ زرو ډیر افغانان ایستل شوي --------------- ٥

یو افغان ماشوم په غلطۍ سره د بریتانیا پر ځای فرانسې ته استول شوی ------------------------------------------------ ٧

بلجیم کي د افغانانو هغه ډله نیول شوې چې کډوال یي په قاچاقي ډول اروپا ته لیږدول---------------------------------- ٩

پس از رسیدگی به نیازمندی های عاجل به زلزله زده‌گان، اسکان دایمی ساخته خواهد شد------------------------------ ١٠

# اخبار کامل

## بیش از ۵۰۰ مهاجرافغان ازایران وپاکستان به وطن برگشت نمود

ویب سایت وزارت



534نفرمهاجر از ایران و پاکستان، طور داوطلبانه وجبری به تاریخ ۲۹ سرطان، به وطن عودت نمودند.

به اساس معلومات آمر امورمهاجرین ولایت نیمروز، از جمله ۴۷۴ نفر مهاجر۳۳ خانواده ، شامل ۱۳۰ تن همراه با ۱۸۵ تن افراد مجرد طور جبری و ۱۷ خانواده شامل ۶۸ نفر همراه با 90تن مجرد بصورت داوطلب واردکشور شده اند.

به گفته منبع ازآن میان،۴۲ خانواده شامل ۷۸ مرد و ۹۳ زن وهمچنان ۱۰ تن مجرد راغرض دریافت کمک، به دفتر IOM معرفی شدند.

درعین زمان، ۹ خانواده مهاجرمقیم پاکستان که شامل۶۰ نفر فاقد مدرک بودند از طریق مرز سپین بولدک، به کشور برگشته اند.

## بیش از ۳۰۰ خانواده در لغمان و فاریاب کمک نقدی وصحی شدند

ویب سایت وزارت



**مساعدت نقدی موسسه CWSA ، برای ۳۰۵ خانواده ازطریق ریاست امورمهاجرین ولایت لغمان به تاریخ ۲۹ سرطان توزیع شد.**

**کمک یادشده برای هر خانواده، مبلغ ۷ هزارو ۹۴۷ افغانی بود که بعد از سروی برای مستحقین در ولسوالی علینگار توزیع گردید .**

**طبق یک خبر دیگر، برای ٤٤ خانواده متضرر در ولایت فاریاب بسته های صحی تهیه شده از طرف دفتر زنان برای زنان، درهماهنگی با اداره امور مهاجرین آنولایت توزیع شد.**

## له پاکستانه (۱۱۱) افغان کډوالي کورنۍ راستنې شوې

د وزارت ویب سایټ

**د کندهار د کډوالو چارو ریاست د سپین بولدک اداره وايي، د چنګابن په (۲۳)مه نېټه څخه تر ۲۹مه پورې له پاکستانه د (۱۱۱) کډوالو کورنیو د راستنېدو خبر ورکړ.**

**د سرچینې د معلوماتو له مخې، په یادو شویو کورنیو کې د سپین بولدک او چمن له لارې څخه ٤کورنۍ چې (۲٦) تنه کېږي اسناد لري او (۱۰۷) کورنۍ چې (٦٥٦) تنه بې اسنادو دي خپل هیواد ته راستنې شوې دي.**

## له ترکیې څخه د کډوالو د ایستلو دوام: یوازې په جون میاشت کې له ۱۲ زرو ډېر افغانان ایستل شوي

د وزارت ویب سایټ



د ترکيې د کډوالۍ اداري خبر ورکړی چې په روان ميلادي کال کې زرګونه افغان او پاکستانيان يوازې د عامه نظم د کډوډولو په تور بيرته خپلو هيوادونو ته شړل شويدي .چارواکي وايي چې په ترکيه کې د ناقانونه کډوالو پر وړاندې عمليات چټک او پر پولو پراخ محدوديتونه لګول شوي.

د ترکيې د صباح ورځپاڼې د پنجشنبې په ورځ راپور ورکړ چې د عامه نظم او ټولنيزې آرامتيا د ګډوډولو په تور له ۲۰۱۶ کال راهيسې ۲۰۵۱۴ سوريايان بيرته خپل هيواد ته شړل شوي.راپور کې راغلي چې د همدغو دلايلو له امله د افغان او پاکستاني اتباعو په ګډون ۶۸۸۲ بهرنيان له دغه هيواد څخه شړل شوي دي.

د ترکيې د کډوالۍ اداري خبر ورکړی چې د غير منظم مهاجرت پر وړاندې عمليات دوام لري.

د يادې ادارې د شميرو له مخې يوازې سږ کال ټولټال له ۵۰ زرو څخه ډير د بيلابيلو هيوادونو غير قانوني کډوال له ترکيې څخه ايستل شوي دي چې ډيره برخه يي افغانان دي. دغه ناقانونه کډوال په ۱۳۴ چارتر الوتکو کې بيرته خپلو اصلي هيوادونو ته استول شوي دي.

راپور کې راغلي:« يوازې د جون په مياشت کې له ۱۶ زرو څخه ډير ناقانونه کډوال له ترکيې څخه ايستل شوي چې له دې ډلې يوازې ۱۲۲۲۲ يي افغانان دي او په ۵۳ چارتر الوتکو کې بيرته افغانستان ته ليږدول شوي دي«.

د ناقانونه کډوالو پر ضد د عملياتو چټکول او پر پولو محدوديتونه

ترکي چارواکي وايي چې پر پولو د امنيت د ټينګښت او د ناقانونه کډوالو د مخنيوي په موخه د امنيتي ديوال رغول، د څراغونو او د کمرو د سيستمونو لګول، ګزمې او نور امنيتي اقدامات جريان لري.

د همدغو هڅو په لړ کې په روان ۲۰۲۲ کال کې ترکيې ته د ۱۷۶۸۹۶ ناقانونه کډوالو دورتګ مخه نيولې شوې چې له دې ډلې يوازې له ۱۲ زرو څخه ډير يې په جون مياشت کې و.

همدارنګه د ترکيې په بيلابيلو ښارونو کې د نامنظم مهاجرت پر وړاندې مبارزې سره د پوليسو کشفي عميات هم ډير شوي چې په دغه لړ کې سږ کال له ۴ زرو څخه ډير قاچاق وړونکي نيول شوي.

چارواکي وايي چې له زندان څخه خوشې شوي ټول بهرنيان چې په جرم او يا هم د عامله نظم پر ګډوډولو تورن و بيرته ته خپلو هيوادونو ته استول شوي او يا د اجباري اخراج په مرکزونو کې ساتل کيږي.

د افغان او پاکستاني کډوالو سربيره دامهال شاوخوا ۱۷۷۰ سوريايان چې د چارواکو په خبره عامه نظم ته يې زيان رسولی و د اخراج په مرکزونو کې ساتل کيږي.

بل پلو بيا له دې وړاندې په افغانستان کې طالب چارواکي ويلي و چې هره اونۍ دوه يا درې چارټر الوتکو کې افغان کډوالو له ترکيې څخه کابل ته استول کيږي.

## يو افغان ماشوم په غلطۍ سره د بريتانيا پر ځای فرانسې ته استول شوی

کډوال نيوز

خبرنامه




د بریتانیا د پارلمان یو غړی ویلي چې یو ۱۱ کلن افغان ماشوم له خپلې کورنۍ سره د یو ځای کیدو لپاره په غلطۍ سره د بریتانیا پر ځای فرانسې ته لیږدول شوی. د پارلمان د محافظه کار ګوند غړي په دې اړه پر حکومت سخته نیوکه کړې.

ډیلي میل خبري ویبپاڼې د پنجشنبې په ورځ لیکلي چې د بریتانیا د محافظه کار ګوند غړی باب بلیکمن چې پارلمان ته یي وینا کوله وویل:« مونږ د یو ۱۱ کلن هلک قضیه لرو چې له بده مرغه د بریتانیا پر ځای فرانسې ته په الوتکه کې اچول شوی و. هغه لاهم په فرانسه کې دی او له خپلې کورنۍ سره یو ځای شوی نه دی «.

نوموړی له دې امله د کورنیو چارو پر وزارت سخته نیوکه کړې او ویلي یي دي چې بیروکراسي اوج ته رسیدلې او او باید دا ستونزه حل کړو. باب بلیکمن وایي :« دغه حالت باید بدلون و مومي«.

نوموړی د پاسپورټ د غوښتنلیکونو په تړاو وویل چې داسې پیښنې هم شته چې حتی خلک چې په لومړیتوب کې و او پیسې یي تحویل کړي خو په وخت سره ورته خدمات نه دي رسیدلي. هغه وایي چې دا په دې ډول مخکې نه شي تللای.

د پارلمان دغه غړي بیا د پناه غوښتوکو په تړاو په خپلو خبرو کې وویل چې لاهم ۱۲ زره افغانان چې د طالبانو له واکمنۍ راهیسې بریتانیا ته رسیدلي په هوټلونو کې بند پاتي دي.

د بریتانیا د پارلمانی یو بل غړی ویلي چې پارلمان به د وکیلانو لخوا راپورته شوي ټولې ستونزې او غوښتنې د کورنیو چارو وزارت سره شریک کړي.

## بلجیم کې د افغانانو هغه ډله نیول شوې چې کډوال یې په قاچاقي دول اروپا ته لیږدول

کډوال نیوز




بلجیم کې یوې ښارنوالۍ د چهارشنبې په ورځ اعلان وکړ چې د افغانانو یوه پنځه کسیزه ډله یې د انساني قاچاق په تور زنداني کړې. پر دغې ډلې شک دی چې نور افغان او پاکستاني کډوال یې دې ته مجبورول تر څو د خپل سفر د لګښتونو لپاره د نشه یي توکو د قاچاق کار وبار وکړي.

د فرانسې خبري آژانس لیکلي چې د سه شنبې په سهار د بلجیم په شمال انټورپ، لیر او لمل ښارونو کې د پولیسو په عملیاتو کې شپږ کسان و نیول شول چې یو تن یې د قاضي پر وړاندې له حاضریدو وروسته خوشې او پنځه تنه نور په بند محکوم شول.

د انټورپ ښار ښارنوالۍ ویلي چې دغه پنځه تنه ټول افغانان دي چې د ۲۰ او ۲۹ کلونو ترمنځ عمرونه لري او کډوال یې په ناقانونه ډول د ځمکې او اوبو له لارې اروپا ته لیږدول.

د هغو افغان او پاکستاني کډوالو شمیر لا نه دی روښانه چې د انساني قاچاقچیانو ښکار ګرځیدلي و.

ځارنوالۍ ویلي چې دغه افغان او پاکستان کډوال د سفر د پوروونو د پرې کولو لپاره اړ ایستل شوي و چې مخدره توکي و پلوري او نورې غیر قانوني کړنې تر سره کړي.

د تحقیقاتو لومړنۍ پایلې ښیي چې د قاچاقچیانو دغه شکمنه ډله له کډوالو سره د اړیکې لپاره د TikTok له شبکې څخه ګټه پورته کوله.

## پس از رسیدگی به نیازمندی‌های عاجل به زلزله زده‌گان، اسکان دایمی ساخته خواهد شد

آژانس اطلاعاتی باختر



به ریاست مولوی شرف الدین مسلم معین وزارت دولت در امور رسیدگی به حوادث و اشتراک سرپرست وزیران صحت عامه و انکشاف دهات، معینان وزارت‌های داخله، امور مهاجرین و عودت کننده‌گان و اقتصاد و رئیس عمومي اداره‌های سره میاشت و احصائیه ملی و معلومات، جلسه کمیسیون تنظیم امور کمک‌های بشری و رسیدگی به زلزله زده‌گان ولایت‌های جنوب شرقی کشور برگزار شد.

به گزارش آژانس باختر؛ در این جلسه معین وزارت دولت در امور رسیدگی به حوادث گفت: پس از رسیدگی به نیازمندی های عاجل به زلزله زده‌گان؛ برای آنان اسکان دایمی ساخته خواهد شد.

وی با اشاره به این‌که چشم و امید مردم در بخش رسیدگی و احیای مجدد منازل شان به مسئولان این کمیسیون است، خاطر نشان کرد که برای رسیدگی و احیای مجدد ساحات تخریب شده باید تدابیر لازم روی‌دست گرفته شود.

در این جلسه مسئولان اداره‌های ذیربط نیز روی سروی دقیق مناطق آسیب‌دیده صحبت کردند و جهت سروی و

**نیازمندی های زلزله زده‌گان بر ایجاد تیم تخنیکی متشکل از اداره‌های دولتی و موسسه‌ها تاکید کردند.**

**در پایان این جلسه، فیصله شد که در ساحات آسیب‌دیده سروی دقیق جیولوژیکی صورت گیرد تا ظرفیت و دیگر بخش‌های ساخت و ساز بررسی شود و نیز به ریاست مولوی شرف الدین مسلم معین وزارت دولت در امور رسیدگی به حوادث، کمیته‌یی به منظور شفافیت در توزیع کمک‌ها، برگزاری جلسه هماهنگی با موسسه‌های ملی و بین المللی و جلب کمک‌ها ایجاد شود.**

خبرنامه